مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ نهمه | د ۲۰۱۹ د جون ۳۰مه | دربیم کال| ۳۹۵یمه گڼه

# قطر کې اووم پړاو مذاکرات؛

## شنونکي وايي دا پړاو د افغان سولې لپاره برخلیک ټاکونکی دی



۳

پوهنتون

۴ مخ

## میهن د لوړو زده کړو موسسه

د دغه موسسې اداره وايي، له ۱۳۹۰ لمریز کاله تر دې دمه يې له فارمسي پوهنځي څخه اته دورې، له طبي ټکنالوژۍ څخه پنځه دورې او له ستوماتولوژۍ پوهنځي يې نهه دورې محصلین د لېسانس په کچه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.



## په ننگرهار کې د ۵۰ میلیونو افغانیو په لگښت د لسو پروژو تړونونه لاسلیک شول



د ننگرهار د کرنې ریاست چارواکي وايي، چې د دغه ولایت د شینوارو په شپږو ولسوالیو کې د ۵۰ میلیونو افغانیو په لگښت، د لسو پروژو قراردادونه د سیمې له پراختیایي شوراگانو سره لاسلیک شوي دي.

د دغه ولایت د کرنې رییس ذبیح الله حسن زي ویلي، چې د شینوارو په اچین، غني خیلو، سپین غر، هسکه مېنه، نازیان او دوربابا ولسوالیو کې د کانالونو او استنادي دیوالونو د جوړېدو په موخه، د سروې او ډیزاین چارې له وړاندې بشپړې شوې دي، چې نن(پرون) يې د سیمې له شوراگانو سره تړونونه لاسلیک شول. ښاغلي حسن زي زیاته کړې چې یادې پروژې به له شپږو میاشتو په کمه موده کې بشپړې او د دغه ولایت په ځانگړې ډول د شینوارو زون خلکو ته به د کرنې او مالدارۍ په برخه کې لا زیاته پاملرنه وکړي.

## اووم پړاو ولې برخلیک ټاکونکی دی؟

۲ مخ

## د نړۍ استخبارات او د افغانستان لاچاري

۲ مخ

## خطرات استفاده از ضدآفتاب طبیعی!

۵ مخ

## څارونکي بنسټونه: د ټاکنو په تړاو د حکومتي چارواکو وروستۍ څرگندونې د اندېښنې وړ دي

د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو د بحراني کېدو په تړاو د حکومت د جگپوړو چارواکو پر څرگندونو غبرگونونه ډېر شوي دي.

دا په داسې حال کې ده چې د حکومت اجرایه رییس عبدالله عبدالله څو ورځې وړاندې په کابل کې د تقویتي نوملیکنې له بهیره د لیدنې پر مهال وویل، چې په ټاکنو کې د مداخلو شکایتونه ورته رسېدلي او که د ټاکنیزو کمېسیونونو مسوولین په خپلواکه توگه عمل ونه کړي او د تېرو ټاکنو ستونزې تکرار شي، هېواد به د بحران پر لور ولاړ شي.

هغه ویلي وو: «که د تېرو ټاکنو ستونزې بیا تکرار شي، هېواد به د یوه نوي کړکېچ پر لور بوځي».

بلخوا پر ټاکنو څارونکي بنسټونه د حکومتي چارواکو له دا ډول څرگندونو اندېښمن دي او وايي، چارواکي دې د ټاکنو د بحراني کېدو په اړه وضاحت ورکړي، څو خلکو ته د راتلونکو ټاکنو د بحراني کېدو علتونه څرگند شي.

دغه بنسټونه وايي، د حکومتي چارواکو دا ډول څرگندونې ښيي، چې افغانان به یو ځل بیا په ټاکنو کې د جنجالونو شاهدان وي.

د افغانستان د ازادو او عادلانه ټاکنو بنسټ اجرایوي رییس یوسف رشید وايي: «که چېرته دوی د بحران خبرې کوي، نو ښه به دا وي چې په دې اړه خلکو ته وضاحت ورکړل شي چې دغه بحران له کوم ځایه راځي». په ورته مهال کې د ولسي جرگې غړي وايي، د حکومتي چارواکو دا ډول څرگندونې د دې ښکارندویي کوي چې دننه په نظام کې هم د راتلونکو انتخاباتو په تړاو بې باورۍ موجودې دي.

## د سولې عالي شورا: د سولې اووم پړاو خبرې به بین‌الافغاني مذاکراتو ته لار هواره کړي



۲ مخ

## بعد از نزدیک به چهل روز جنجال‌ها؛ میر رحمان رحمانی رئیس ولسی جرگه شد



میر رحمان رحمانی، بعد از جنجال‌ها و اختلاف‌های حدود یک و نیم ماهۀ انتخابات ریاست ولسی جرگه، توانست با کسب ۱۳۶ رای تایید رئیس ولسی جرگه شود.

از ۲٦ ثور تا پنجم سرطان، در سه دور انتخابات ریاست ولسی جرگه، یازده تن برای احراز کرسی ریاست این جرگه نامزد شدند، اما هیچ کدام پنجاه جمع یک درصد رای را از آن خود کرده نتوانست و سر انجام دیروز مطابق اصول وظایف داخلی این جرگه، از جمع این یازده نامزد، برای دو نامزد پیشتاز (میر رحمان رحمانی که در دور پیشین ۱۲۳ رای داشت و خان محمد وردگ که در دور پیشین ۱۰۵ رای داشت) رای گیری شد.


در نشست دیروز ولسی جرگه ۲٤٥ تن از نماینده گان در رای گیری شرکت نمودند و هر نامزد برای برنده شدن نیاز به ۱۲۳ رای داشت.

خان محمد وردگ با کسب ۹٦ رای تایید نتوانست آرای لازم برای برنده شدن را از آن خود کند، اما میر رحمان رحمانی با داشتن ۱۳٦ رای تایید توانست کرسی ریاست ولسی جرگه را احراز کند.

ملک قیس نورآغا رئیس مؤقت ولسی جرگه این نتایج را اعلام و به رحمانی جهت انتخاب او به حیث رئیس ولسی جرگه مبارکی داد.

میر رحمان رحمانی از نماینده گان مردم تشکری کرد که بالای او به حیث رئیس ولسی جرگه اعتماد کردند.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY 2019




Easy English Learning
+93 (0) 789 98 9696
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.

## دریځ

### اووم پړاو ولې برخلیک ټاکونکی دی؟

له اوږده ځنډ وروسته په قطر کې د امریکایي او طالب استازو ترمنځ پرون له غرمې وروسته بیا خبرې پیل شوې دي. دا د خبرو اووم پړاو دی چې برخلیک ټاکونکی بلل شوی دی. طالبانو ویلي چې په دې پړاو کې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو پر وتلو او د چا پر ضد د افغان خاورې پر نه استعمال به وروستۍ خبرې او هوکړه کېږي. امریکایي اړخ بیا ویلي چې پر اوربند او بین‌الافغاني مذاکراتو به هم بحث وشي او پر ټولو مسایلو به یو ځای هوکړه کېږي.

د طالب او امریکایي استازو ترمنځ د خبرو شپږم پړاو له ستونزو ډک پړاو ګڼل کېده. د دواړو اړخونو ترمنځ سختې خبرې شوې وې. که څه هم دواړو اړخونو د پرمختګونو خبره کوله، خو رښتیا دا وه چې شپږم پړاو د په شاتګ پړاو و. ټاکل شوې وه ژر اووم پړاو پیل شي، خو طالبانو امریکا ته بیا بیا دا پیغام لېږه چې که د بهرنیو ځواکونو د وتلو او د چا پر ضد د افغان خاورې د نه استعمال مسایل په دې پړاو کې نه وروستي کېږي، نو دوی خبرو ته تیار نه دي. طالبانو همدا شرط اېښی و چې په اووم پړاو کې باید په همدغو دوو مسایلو هوکړه وشي. امریکا بیا ویل چې اوربند او له افغان حکومت سره پر خبرو هم باید هوکړه وشي. طالبانو ټینګار کاوه چې لومړي دوه مسایل دې وروستي شي او دوه نور دې افغانانو ته پرېښودل شي. امریکا پر طالبان پراخ نظامي او سیاسي فشار راوړ چې نرم یې کړي او له خپلې غوښتنې یې را وګرځوي، خو طالبان پر خپل دریځ کلک ولاړ وو. له همدې امله اووم پړاو خبرې وځنډېدلې. اوس داسې ښکاري چې امریکا منلې د بهرنیو ځواکونو د وتلو مسئله به وروستۍ کوي. له همدې امله خبرې پیل شوې دي او برخلیک ټاکونکي ګڼل کېږي.

که امریکا پر خپله ژمنه ودرېږي، نو په همدې پړاو کې به د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالوېش وټاکل شي او طالبان به تضمین ورکړي چې افغان خاوره د چا پر ضد نه کارول کېږي. د بهرنیو ځواکونو د وتلو د مهالوېش له اعلان سره به اوربند هم اعلان شي، خو له حکومت سره د طالبانو د خبرو شرط به ونه منل شي. طالبان به غوره وګڼي چې له سیاستوالو او سیاسي ګوندونو سره خبرو ته دوام ورکړي. د دې شونتیا هم شته چې طالبان له یو بې طرفه لنډمهالي حکومت سره خبرې ومني او په دې سره دا ستونزه هم حل شي. په دې ډول به د بهرنیو ځواکونو د وتلو پر مهالوېش، د چا پر ضد د افغان خاورې پر نه استعمال، اوربند او بین‌الافغاني خبرو هوکړه وشي او لومړنی اساسي ګام به واخیستل شي. که امریکا پر خپله کړې ژمنه ونه درېږي او یو ځل بیا د خپلو ځواکونو د وتلو پر مهالوېش له هوکړې ځان وغړوي، نو ښکاري چې دا به د پیل شوې پروسې وروستی پړاو وي. د سولې روانې خبرې به له جدي خنډ سره مخ شي او ښایي اوږده موده بیا طالبان خبرو ته حاضر نه شي. له همدې امله اووم پړاو برخلیک ټاکونکی ګڼل کېږي او له دې سره د سولې د روانو خبرو بری او ناکامي تړلې دي.

## د شانګهای د همکاریو سازمان د بېشکېک سرمشریزې غونډې د افغانستان لپاره ښه خبرونه لرل



لیکنه: په افغانستان کې د چین سفیر لیو جېن سونګ

د جون په ۱۴مه د شانګهای د همکاریو سازمان د غړو هېوادونو د رهبرانو د شورا غونډه په بېشکېک کې جوړه شوه.

د افغانستان او چین ولسمشران د ۱۸ نورو هېوادونو، نړیوالو او سیمه ییزو سازمانونو له مشرانو سره په سیمه کې د پرمختګ پر ستراتیژیو د بحثونو لپاره سره جرګه شول.

په هغه اعلامیه کې چې په دې غونډه کې هوکړه ورباندې وشوه، رهبرانو د افغان کړکېچ ببړنی حل د سیمې د هېوادونو د ثبات او امنیت لپاره اساسي فکټور وباله. د ټولو اړخونو له لوري څرګند شوی ښه نیت په افغانستان کې د سولې، پخلاینې، بیارغونې او پرمختګ لپاره د نویو فرصتونو د رامنځته کېدو په مانا دی.

د افغانستان-چین ترمنځ د اړیکو د لا پراختیا لپاره لیدلوری هم مشخص شو. په دې ناسته کې د چین ولسمشر شي جین پینګ له خپل افغان سیال اشرف غني سره بریالۍ ناسته درلوده چې دا له ۲۰۱۵ زېږدیز کال راهیسې د دواړو هېوادونو د ولسمشرانو ترمنځ د شانګهای سازمان د ناستو پر مهال پنځمه کتنه وه.

ولسمشر شي جین پینګ اشرف غني ته د افغانستان د خپلواکۍ د ۱۰۰مې کلیزې مبارکي ورکړه او د افغانستان لپاره یې د ببړنۍ سولې، ثبات او پرمختګ هیله څرګنده کړه. ولسمشر شي جین پینګ وویل چې د یوه سنتي ګاونډي او ستراتیژیک متحد په توګه چینایي اړخ د جګړې او کړکېچ له کبله د افغانانو درد حس کوي او چمتو دی چې په بېلابېلو برخو کې دواړو لورو ته ګټه رسوونکې همکاري په دوامداره توګه پراخه کړي، د اقتصاد او سوداګرۍ په برخه کې د تعاون عملي پروژې پلې کړي او د دواړو هېوادونو د تصدیو ملاتړ وکړي، څو هغوی د دوه اړخیزې ګټې پر بنسټ د یو کمربند یوې لارې د پروژې په چهارچوب کې همکاري پراخه کړي.

چین به تل تر خپله وسه د سولې او بیارغونې په برخه کې له افغانستان سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي او له ترهګرۍ سره د مبارزې او د ثبات د ټینګښت د جوګه کېدو لپاره به د افغان لوري لاسنیوی وکړي.

د شانګهای-افغانستان د تماس ډلې ته به لا زیات رول او ځواک ورکړل شي، څو په ټولو برخو کې د همکارۍ په پراختیا سره سولې، پخلاینې، ثبات او پرمختګ ته د افغانستان د رسېدو په هڅو کې لا ډېر رغنده رول ولوبوي. اشرف غني ولسمشر شي جین پینګ ته د چین د ولسي جمهوریت د رامنځته کېدو د ۷۰یمې کلیزې مبارکي ورکړه او له چینایي اړخ څخه یې د افغان سولې او د پخلاینې او سیمه ییز ثبات په برخه کې د مثبت رول د ادا کولو له کبله د مننې تر څنګ یې ژمنه وکړه، چې افغانستان د ختیځ ترکستان د اسلامي غوځښت په ګډون له «دریو شیطاني ځواکونو» سره ګډې مبارزې ته ژمن دی. ولسمشر غني دغه راز وعده وکړې چې د افغانستان د بیارغونې او پراختیا تګلارې به د چین د یو کمربند او یوې لارې له نوښت سره همغږې کوي او له چین سره به د اقتصاد او سوداګرۍ په برخه کې همکاري نوره هم پراخوي.

د افغان سولې په اړه سیمه ییزه اجماع نوره هم پیاوړې شوې. د چین ولسمشر شي جین پینګ په خپله وینا کې د افغان سولې له یوه جامع او هر اړخیز بهیر څخه د چین پر ملاتړ ټینګار وکړ او ژمنه یې وکړه چې له بېلابېلو چینلونو څخه به بین‌الافغاني ډیالوګ ته د رسېدو لپاره له افغانانو سره مرستو ته دوام ورکړي. هغه زیاته کړه چې چین له افغانستان او پاکستان سره مرسته کوي، څو دوه اړخیزې همکارۍ پراخې کړي او چمتو دی چې له دوی سره درې اړخیزې اړیکې هم ژورې کړي. د شانګهای د همکاریو د سازمان غړو هېوادونو د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې پر بهیر ټینګار وکړ او ژمنه یې وکړه چې هم به په دوه اړخیز ډول د دغه بهیر ملاتړ کوي او هم به د شانګهای- افغانستان د تماس د ډلې له لارې، څو په دغه هېواد کې ژر تر ژره سوله او ثبات ټینګ شي. غړو هېوادونو پر نړیوالې ټولنې هم غږ وکړ چې په بیړه په افغانستان کې د سولې لپاره شرایط چمتو او د افغان کړکېچ د سوله ییز حل لپاره په نړیوالو هڅو کې د ملګرو ملتونو د رهبرۍ د رول ملاتړ وکړي. د سولې د بهیر په دې حساس پړاو کې، د شانګهای د سازمان ټینګ ملاتړ د افغانستان د پخلاینې د بهیر لپاره د سیمه ییزې اجماع او د سولې لپاره د وړ چاپېریال له رامنځته کېدو سره مرسته کولی شي.

له ترهګرۍ سره د مبارزې او د ثبات د ټینګښت لپاره د افغانستان کلک ملاتړ وشو. غونډې ته په وینا کې ولسمشر شي جین پینګ وویل چې افغانستان د شانګهای سازمان د غړو هېوادونو ګاونډی او د سازمان مهم څارونکی دی. نو له همدې کبله غړي هېوادونه د افغانستان د خلکو درد درک کولی شي. غړو هېوادونو هر ډول ترهګري په سختو ټکو وغندله او له تاوتریخوالي سره یې په هر ځای کې چې وي، سخت مخالف څرګند کړ. د شانګهای سازمان د غړو هېوادونو په باور، له ترهګرۍ سره مبارزه باید د څو اړخیزو هڅو پر مټ وشي، یعنې د ترهګرۍ فلسفه او تبلیغات باید په شدت وځپل شي او هغه عوامل له تشخیص وروسته له منځه یوړل شي، چې د ترهګرۍ او تاوتریخوالي د پراختیا لامل کېږي. له ترهګرۍ او تاوتریخوالي سره مبارزه باید د نورو هېوادونو په چارو کې د لاسوهنې لپاره د پلمې په توګه ونه کارول شي. دغه راز باید هېڅ هېواد د خپلو شخصي ګټو لپاره له ترهګرو، وسله والو ډلو او بنسټپالو سازمانونو د وسیلې په توګه استفاده ونه کړي. غړي هېوادونه باید له نشه یي توکو سره د مبارزې په برخه کې همکاري پراخه کړي او د غیر قانوني کر، تولید، قاچاق، خپراوي او د نشه یي توکو د نورو اړوندو توکو پر خلاف مبارزې ته لومړیتوب ورکړي. د شانګهای د سازمان غړي هېوادونه د خپلواک، بې پرې، سوله ییز، سوکاله او د ترهګرۍ او نشه یي توکو له اړوندو جرمونو څخه د پاک افغانستان ملاتړ کوي. د شانګهای د سازمان ناستې یو ځل بیا د سیمه ییزې سولې او ثبات د ساتلو لپاره هوډ څرګند کړ او چمتووالی یې وښود چې له افغانستان سره به له ترهګرۍ سره د مبارزې او د ثبات د رامنځه کولو په برخه کې مرسته کوي.

په افغانستان کې د سولې او بیارغونې لپاره ډېر فرصتونه شته. شانګهای سازمان د سیمه ییزې همکارۍ یو جامع بنسټ دی چې په نړۍ کې تر ټولو ډېره سیمه او نفوس رانغاړي. دا سیمه د منابعو له اړخه غني ده، ستر مارکېټ دی او د ساینسي او ټکنالوژیکو نوښتونو په برخه کې لوړه وړتیا لري. په دې ناسته کې د شانګهای سازمان د غړو هېوادونو رهبرانو ژمنه وکړه چې د سولې، اقتصادي پرمختګ، له ترهګرۍ او د نشه یي توکو د اړوندو جرمونو پر وړاندې د مبارزې په برخو کې به د افغانستان له دولت او خلکو سره مرسته کوي. دوی هوکړه وکړه چې د ځانګړو پروژو پلي کول به چټکوي، سیمه ییز اتصال به پیاوړی کوي، زېربنا ته به پراختیا ورکوي، څو کاره نړیوال لوجیستیک به جوړوي، د سوداګرۍ او ګرځندوی مرکز به رامنځته کوي، نویو او د انرژۍ سپما کوونکو ټکنالوژیو ته به مخ کوي او د څارونکو او مذاکره کوونکو هېوادونو له بالقوه ځواک څخه به استفاده کوي. په دې تړاو به غړي هېوادونه په سیمه کې سوداګري او پانګونه ډېره کړي. افغانستان د آسیا زړه دی چې د شانګهای د سازمان له ډېری هېوادونو سره ورته دودونه او سنتي ملګرتیا لري او همدا له شانګهای سازمان سره د یو ځای کېدو لپاره یو طبیعي امتیاز دی. د یو کمربند او یوې لارې د پلي کېدو په بهیر کې به شانګهای سازمان ډېر پرانیستی وي او ټولو ته به ډېره ګټه ورسوي. د سیمه ییزې اجماع په زیاتوالي سره به افغانستان د پرمختګ لپاره له نویو فرصتونو سره مخ شي او ښېرته به د وریښمو د تاریخي لارې د وخت په څېر خپل برم تر لاسه کړي. د شانګهای سازمان اوسمهال په ټولیز ډول د پرمختګ لپاره له عالي ځواکه برخمن دی او په نړیوال اقتصاد کې یې ونډه، د نړۍ د اقتصاد له ودې او له سیمه ییزې سولې او ثبات سره یې د مرستې کچه په تدریجي او دوامداره ډول زیاتېږي.

چین او شانګهای سازمان د افغانستان وضعیت ته جدي پام کوي، د افغانستان د خلکو درد حس کوي او په دغه هېواد کې پر ټولو ښکېلو اړخونو غږ کوي چې له رامنځته شوي فرصت څخه ګټه پورته کړي، څو د پرمختګ بهیر له شانګهای سازمان سره همغږی شي. دغه کار د یووالي، دوه اړخیز باور، ګډ امنیت، دوه اړخیزو ګټو، د ترهګرۍ د ودې لپاره د شرایطو د له منځه تللو لپاره د همکارۍ چهارچوب رامنځته کوي او د افغانستان د سولې، بیارغونې او اقتصادي پرمختګ لپاره بنسټ جوړېږي. ډېر داسې عوامل شته چې موږ باوري کوي چې د شانګهای سازمان او پاتې نړیوالې ټولنې په ملاتړ او مرسته افغانستان، د آسیا زړه، کولی شي چې خپل ځواک بېرته تر لاسه کړي.

## د سولې عالي شورا: د سولې اووم پړاو خبرې به بین‌الافغاني مذاکراتو ته لار هواره کړي

د سولې عالي شورا ویلي، هیله من یو چې په قطر کې د سولې اووم پړاو خبرې به بین‌الافغاني مذاکراتو ته لار هواره کړي.

د دغې شورا مرستیال عبدالکبیر اوچقون ازادي راډیو ته ویلي چې په قوي ګومان پاکستان ته د ولسمشر غني وروستی سفر هم د سولې له اووم پړاو خبرو سره تړاو ولري.

هغه زیاته کړې: «د ناټو د سرمنشي او مایک پامپیو څرګندونې دا ټول راښیي چې د سیمې هېوادونه او نړیواله ټولنه دې نتیجې ته رسېدلې چې په افغانستان کې باید ثبات راشي او بین‌الافغاني خبرې پیل شي، نو ځکه د سولې عالي شورا هیله منه ده چې اووم پړاو خبرې یوې نتیجې ته ورسېږي».

د اوچقون په خبره، د سیمې او له سیمې هاخوا ټول هېوادونه غواړي چې د سولې د پروسې مالکیت له افغانانو سره وي. دا خبرې داسې مهال مطرح کېږي، چې پرون د قطر په پلازمېنه دوحه کې د افغان سولې په تړاو د طالب او امریکایي چارواکو ترمنځ اووم پړاو خبرې پیل شوې دي. د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد ویلي چې ټول اړخونه د سولې د یوې چټکې پروسې غوښتونکي دي. په ورته وخت کې په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي نېکولاس کې هم ویلي، چې د افغان سولې لپاره کم وخت پاتې دی. بلخوا د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو هم ویلي، واشنګټن تمه لري چې د سپټمبر له میاشتې مخکې په افغانستان کې د سولې په برخه کې یوه هوکړه وشي. د سیاسي چارو افغان شنونکي هم د سولې دغه پړاو خبرو ته خوشبین دي او برخلیک ټاکونکې یې ګڼي. د سیاسي چارو شنونکی وحید مژده وایي: «د ۹۰۰ طالب بندیانو له خوشې کېدلو نیولې، مسکو ته د ښاغلي کرزي تر سفر او پاکستان ته د افغان سیاسیونو او ولسمشر غني تر سفرونو پورې، دا ټول تر ډېره بریده همدې مسئلې پورې اړه لري چې ویل کېږي اووم پړاو خبرو کې به یې نتیجه راووځي».

هغه دغه راز وایي، ښایي د سولې په دغه پړاو خبرو کې د طالب استازو او امریکایي چارواکو ترمنځ د امریکایي ځواکونو د وتلو او بین‌الافغاني مذاکراتو وخت هم وټاکل شي.

## چارواکي: د نشه یي توکو جوړولو لپاره افغانستان ته د کېمیاوي موادو قاچاق ډېر شوی دی

د افغان حکومت تازه څېړنې ښیي چې افغانستان ته د کېمیاوي نشه یي توکو د قاچاقو له ډېرېدو سره یو ځای، د هغو کېمیاوي موادو قاچاق هم ډېر شوی چې د هیرویینو په جوړېدو کې ترې کار اخیستل کېږي.

د ملګرو ملتونو د سازمان په تازه راپور کې هم راغلي چې د نشه یي توکو د تولید او قاچاقو بهیر او وضعیت پېچلی شوی دی، له همدې امله باید د ګټورې مبارزې لپاره د دولتونو ترمنځ همغږي ډېره او د دولتي او نادولتي ادارو ظرفیت لوړ شي.

له نشه یي توکو سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز ویاند خالد موحد ویلي، د تېرو کلونو په پرتله د افغان دولتي ادارو ظرفیت لوړ شوی چې په نتیجه کې یې له افغانستان څخه بهر ته د تریاکو د قاچاقو کچه ټیټه شوې، خو له نورو هېوادونو څخه بیا افغانستان ته د کېمیاوي او مصنوعي نشه یي توکو قاچاق ډېر شوی دی.

نوموړي زیاته کړې: «د تېر کال په پرتله د ښیښې قاچاق ډېر شوی چې په دې برخه کې لاسته راوړنې او د دې ډول نشه یي موادو نیول هم ډېر شوي دي. پخوا په سرحدي سیمو کې د هیرویینو او مورفینو نیولو دا ښودله چې دا مواد په افغانستان کې جوړېږي، خو اوس څېړنې او شمېرې ښیي چې د نشه یي موادو د تولید ځای بدل شوی او له افغانستانه نورو هېوادونو ته د نشه یي موادو قاچاق هم کنټرول شوی دی».

د ملګرو ملتونو له نشه یي توکو او جرمونو سره د مبارزې اداره یا «UNODC» له نشه یي توکو سره مبارزه په هغه صورت کې ګټوره بولي، چې دولتونه حساب ورکړي او د روغتیایي او اجتماعي خدماتو داسې معیاري اداري ولري، چې د عدالت ترڅنګ، د نشه یي توکو له امله زیانمنو شویو افغانانو ته روغتیایي خدمات هم ورسوي. له نشه یي توکو سره د مبارزې عدلي او قضایي مرکز وایي چې د افغانستان امنیتي ادارو یوازې په تېرو دریو میاشتو کې د نشه یي توکو د قاچاقو په تور ۳۲۱ کسان نیولي دي. له دې ډلې څخه ۲۹۳ یې له یوه پتر دېرشو کالو پورې پر بند باندې محکوم شوي دي.



# د نړۍ استخبارات او د افغانستان لاچاري

لیکنه: مشتاق رحیم

افغانان تل د آی ایس آی (ISI) له لاسوهنې سر ټکوي چې د افغانستان په بې ثباتۍ کې ښکاره لاس لري. پخوا د شوروي کې جي بي (KGB) په اړه هم ورته خبرې کېدې. له سي آی اې هم شکایت کېږي او افغانان وربانديې د افغانستان په چارو کې له لسیزو را پدېخوا د لاسوهنې له امله نیوکې کوي. په باندنیو استخباراتو کې د خپل هېواد د روان ناورین د پړې اچولو له لارې مو له باندنیو ادارو یوه لویه بلا جوړه کړې او تل مو داسې جوته کړې، چې ګونډې دوی نه ماتېدونکي، له هره اړخه پوره او منظمې ادارې دي او همدا لامل دی چې د افغانستان د وخت ادارې له دوی څخه د ځان ژغورنې وړتیا نه لري او دوی په استخباراتي لوبه کې پر افغانانو برلاسې دي.
په دې کې شک نشته چې د نړۍ بېلابېلې استخباراتي ادارې چې د افغانستان په چارو کې وخت ناوخت مداخلې کوي، د خپلو موخو په تکل کې په افغانستان کې بریالۍ پاتې شوي دي، خو دا ګڼل چې دا ادارې ډېرې پیاوړې دي او فوق العاده وړتیا لري، یوه ناسمه انګېرنه ده. د یادو ټولو ادارو ژوره څېړنه دا را برسېره کوي چې یادې استخباراتي ادارې دومره منظمې، په خپل کار پوره برلاسې او ډېرې پیاوړې نه دي. د ټولې نړۍ استخباراتي او سیاسي ادارې ستونزې لري او هغه استخباراتي کړۍ چې په افغانستان کې ښکېلې دي او یا هم پخوا یې په افغانستان کې کار کړی، له دې خبرې مستثنی نه دي.
یادې ټولې ادارې خپلمنځي ناهمغږۍ، په چارو کې له یو بل سره سیالي (Turf war) او په خپلو کې د رقابت له کبله تل له ستونزو او کورنیو شخړو سره لاس او ګرېوان دي. همدا ادارې د یو بل د کار کولو طریقه نه خوښوي چې له کبله یې دغه اداري واحدونه له یو بل سره ګډ کار نه کوي.
په نړۍ کې داسې ډېرې بېلګې شته چې دغو ادارو په خپلو کې ستونزې درلودې چې له کبله یې د دوی چارې ټکنۍ شوې دي. د دغه ډول حالت ژوندۍ بېلګه د ریچارډ هالبروک په وخت کې د هېلري کلېنټن او هالبروک په خپلو کې د اړیکو ترینګلتیا ده. د دواړو امریکايي مشرانو خپلمنځي سیالي د دې لامل شوې، چې هالبروک او په ټوله کې د امریکا د باندنیو چارو وزارت خپلې چارې هغسې چې لازمې وې، سمبال نه کړې شوې. په دې اړه د ولي نصر په نوم د هالبروک د یو ایراني الاصله امریکايي سلاکار د مقالو ټولګه شته. په دغه ټولګه کې ولي نصر وايي چې هېلري به دوی کار ته نه پرېښودل.
همدا راز په هند کې د دغه هېواد استخباراتي ادارې ډېری وخت آن حاضرې نه وې چې په خپلو کې سره خبرې وکړي. د هندوستان انټیلیجنس بیورو (IB) او را (RAW) په خپلو کې سره وران وي. دا دواړه ادارې خپلمنځي ستونزې لري. د ادارو د ناهمغږۍ ترڅنګ، پخپله ادارې هم د وړتیاوو له مخې له ستونزو سره مخ وي. که د پاکستان نظامي استخباراتي ادارې ته کتنه وکړو، نو په څرګنده توګه پکې لیدل کېږي چې د دغه ادارې کارکوونکي په هغه کچه کاري وړتیا چې ورته ضرورت دی، نه لري. په دې اړه د پاکستان د استخباراتي ادارې پخوانی مشر جنرال اسد درانی ډېرې کیسې لري. له دغه کیسو یوه یې دا هم ده چې کله یاد جنرال په آی ایس آی کې پر دنده ګمارل کېدو، نو دغه ادارې د جنرال په اړه پلټنه کوله. په دې موخه د استخباراتو یو کارکوونکی د جنرال دراني د خسر کور ته ځي. دا چې د جنرال د خسر کورنۍ په کور کې نشته، نو یاد استخباراتي شخص د څنګ د کور له ساتونکي د جنرال دراني د کورنۍ په اړه پوښتنه کوي، چې په ځواب کې ورته ویل کېږي چې دا کورنۍ ښه خلک دي. جنرال درانی وايي چې د همدې پلټنې په بدل کې هغه په استخباراتو کې پر دنده ګمارل کېږي.
له پورتني بحث وروسته پوښتنه را ولاړېږي چې ولې دغه باندنۍ استخباراتي کړۍ په افغانستان کې برلاسې دي؟ د افغانستان په استخباراتي جګړه کې د وروسته پاتې والي بنسټیز لامل دا دی چې دغه ادارې د دې پر ځای چې هېواد ته د پېښو باندنیو خطرونو پر ضد فعالیت وکړي، د تاریخ په اوږدو کې دا ادارې د خپلو خلکو په ځارلو او ترورولو باندې بوخته پاتې شوې دي. همدا راز، په تېرو څلوېښتو کلونو کې د افغانستان استخباراتي ادارې تر ډېره بریده سیاسي پاتې شوې دي او د بېلابېلو ډلو- ټپلو چوپړ ورته له هېوادنۍ دندې لومړیتوب درلودلی دی. همدا لامل دی چې د افغانستان استخباراتي ادارې له خپلو سیالانو څخه دوه ګامه شاته رواني پاتې شوې دي.
بلخوا، ډېری وخت افغان حکومتونو د خپلو کورنیو ناکامیو د پټولو لپاره له باندنیو استخباراتو څخه د لاسپاکي په توګه کار اخیستی دی. په امنیتي چارو کې ناکامي، ناسمه حکومتولي او د سیاسي بې ثباتۍ لاملونو د لټولو پر ځای تل هڅه شوې چې باندني ملامت شي او په دې ډول ځان له مسوولیته خلاص کړي. دا چې په وار وار حکومتونه د باندنیو استخباراتي ادارو نوم اخلي، نو دا بیا د دې لامل کېږي چې یادې استخباراتي کړۍ د یوې سترې بلا او نه مهارېدونکي خطر په توګه را څرګند شي چې منفي اغېز یې بیا د هېواد په ادارو او ولس هم پرېوځي.
دا چې افغانستان له یوې استخباراتي جګړې سره مخ دی او ډېرې استخباراتي کړۍ په افغانستان کې کار کوي، نو په لومړي سر کې باید حکومت او ولس د خپلو استخباراتي ادارو سرښندنې، زحمتونه او هلې ځلې وستایي، څو د دغو ادارو مورال لوړ شي. دا اوس سره له ټولو ستونزو د افغانستان استخباراتي ادارې په خورا مېړانه د سیمې او نړۍ له کابو ټولو استخباراتي شبکو سره مبارزه کوي. په دویم ګام کې د افغانستان حکومت باید له استخباراتي ادارو سره په ګډه کار وکړي، څو دغه ادارې له سمتي او سیاسي تړاوونو څخه پورته لید پیدا کړي او خپلې چارې په مسلکي ډول مخ ته یوسي، خو تر هغې هم د مخه حکومتونه باید د استخباراتي کړیو لاسوهنې د کور دننه له ستونزو څخه بېلې او خپلې کورنۍ ستونزې وبولي. په دغه کار سره به استخباراتي ادارې وکولای شي چې پر خپلو چارو باندې په مسلکي ډول تمرکز وکړي.

# قطر کې اووم پړاو مذاکرات؛

## شنونکي وايي دا پړاو د افغان سولې لپاره برخلیک ټاکونکی دی



تر شپږم پړاو مذاکراتو وروسته اوس د طالبانو او امریکا ترمنځ اووم پړاو مخامخ خبرې پیل شوې دي. وسله والو طالبانو او امریکا په تېرو پړاوونو کې د پرمختګونو خبره کړې ده، خو تر دې دمه یې په هېواد کې د جګړې پر ډګر خاص اغېز نه دی لرلی. بل پلو سرچینې بیا وايي چې دا پړاو مذاکرات تر ټولو مهم دي او که ستونزه پکې پیدا شي، نو ښايي په هېواد کې د جګړو د شدت سبب شي.
قطر دفتر ته نږدې سرچینو ویلي چې پرون د طالبانو او امریکايي پلاوي ترمنځ د مخامخ خبرو اووم پړاو پیل شوی دی او پر مهمو مسایلو به بحث وربانديې کېږي. تر دې وړاندې د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزیر، افغانستان، پاکستان، تاجکستان، آلمان او نورو هېوادونو ته سفرونه کړي دي. ده هڅه کړې چې د افغان سولې په اړه سیمه ییزه او نړیواله اجماع پیاوړې کړي.
طالبانو ته نږدې سرچینې وايي، چې په دې پړاو مذاکراتو کې دواړو لورو پر هغو مسایلو چې په مخکنیو خبرو کې پکې پرمختګ شوی او هوکړې ته نه وو رسېدلي، خبرې روانې دي، چې مهمه برخه یې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو مهالوېش ټاکل دي. دوی هیله ښيي چې په دې پړاو مذاکراتو کې د یوې نهایي هوکړې امکان ډېر دی. د وسله والو طالبانو د قطر دفتر ویاند سهیل شاهین د اووم پړاو مذاکراتو تر پیل مخکې له رسنیو سره په خبرو کې ویلي وو، چې امریکا د خپلو ټولو ځواکونو د وتلو خبره منلې ده. د شاهین په خبره، په دې دور مذاکراتو کې به پر مهالوېش هوکړه کېږي؛ خو د هغه د دې خبرې په ځواب کې بیا زلمي خلیلزاد ویلي وو، چې د یوې جامع هوکړې پر جوړولو کار روان دی. د هغه په خبره، په دې جامع هوکړه کې ډېر موارد دي چې یا به پر ټولو هوکړه کېږي او یا به پر هېڅ یوه مورد هم هوکړې ته نه رسېږي.
په ورته وخت کې داسې هیلې شته چې طالبان او امریکايي لوری په دې پړاو کې یوې واضح هوکړې ته ورسېږي. د سیاسي چارو شنونکی وحید مژده وايي: ((په دې پړاو کې دا تمه شته ده، چې یو واضح توافق وشي. په سیمه او نړۍ کې هم حالات ښيي چې په افغانستان کې یو لوی تحول را روان دی)).
د خارجي ځواکونو د وتلو مهالوېش ترڅنګ، د نورو هیوادونو خلاف د افغان خاورې د نه کارېدلو تضمین، له افغان حکومت سره د سولې خبرې او اوربند هغه مسایل دي، چې د طالبانو او امریکايي پلاوي ترمنځ پرې بحث روان دی.
شنونکي وايي، که اووم پړاو مذاکرات له کومې نتیجې پرته پای ته ورسیږي او نتیجه ورنه کړي، په افغانستان کې به روانه جګړه د اوږدې مودې لپاره دوام وکړي او ښايي بیا مذاکرات هم د ډېر وخت لپاره وځنډېږي.
مژده زیاتوي: ((زما په نظر که دا مذاکرات نتیجه ور نه کړي، دا مسایل اوږده شي نو په دې مانا ده چې امریکایی لوری صادقانه چلند نه کوي. په دې توګه به جګړه اوږدېږي او حالات به ترینګلي کېږي)).
د ملي شورا غړي هم د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ اووم پړاو مذاکراتو پایلو ته خوشبینې ښيي او وايي چې دواړه اړخونه دې نور د جګړې د پای ته رسولو لپاره سره هوکړې ته ورسیږي.
د ولسي جرګې غړی نادرخان کټوازی وايي، هیله لري چې دا ځل امریکا او طالبان پر شته مواردو هوکړې ته ورسېږي. نوموړی وايي: ((ولس هیله من دی چې په دې پړاو کې مسودې پر مصوبو باندې واوړي او د افغانستان ستونزې ته یوه د حل لار پیدا شي)).
د وسله والو طالبانو او امریکا ترمنځ اووم پړاو مذاکرات داسې مهال پیل شوي، چې امریکا هم د دې جګړې پای ته رسېدو او خبرو پایلو ته هیله مندي ښيي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو کابل ته د خپل سفر پر مهال ویلي وو، هیله لري چې دا مذاکرات ښه پایله ولري او تر ټاکنو مخکې د سولې یوه واضح هوکړه رامنځ ته شي.

# د نړۍ پیاوړو هېوادونو ایران ته خبرداری ورکړی چې اټومي تړون ته ژمن پاتې شي


د نړۍ پیاوړو هېوادونو په ویانا کې له ایراني چارواکو سره په غونډه کې دغه هېواد ته خبرداری ورکړی، چې د اټومي هوکړې شرایطو ته ژمن پاتې شي.
د برېټانیا، جرمني، چین، روسیې او فرانسې استازو د ایران له استازي سره په ویانا کې په دې تړاو مفصلې خبرې کړې دي.
دوی د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون د شرایطو پر تطبیق بحث کړی چې د ایران د یورانیمو غني کول او ذخیره کول محدودوي.
د دغو شرایطو له مخې، د ځینو نړیوالو بندیزونو د لرې کېدو په بدل کې د ایران اټومي ظرفیتونه محدود کړای شوي وو.
د نړۍ دغو پیاوړو هېوادونو په خپله غونډه کې ایران ته خبرداری ورکړی، چې د شوي اټومي تړون شرایطو ته ژمن پاتې شي.
د ایران د بهرنیو چارو وزارت معین عباس عراقچي په ویانا کې تر غونډې وروسته خبریالانو ته په خبرو کې ویلي، چې د تړون له غړو هېوادونو سره یې غونډه مثبته، خو کافي نه وه.
هغه ویلي: «موږ د ګډ کمېسیون اوږده غونډه درلوده چې تر دریو ساعتونو زیات یې دوام وکړ، په ټوله کې زه پر دې باور یم چې یوه مثبته او رغوونکې غونډه وه. مخکنیو غونډو ته په پام سره ویلای شم چې دا یو بل ګام و، خو لا هم کفایت نه کوي، لا هم د ایران توقعات نه پوره کوي».
ایران ته د نړۍ د پیاوړو هېوادونو دغه خبرداری داسې مهال دی، چې د ایران لپاره د امریکا ځانګړي استازي براین هوک وړمه ورځ وویل چې واشنګټن به د تهران پر وړاندې خپل دریځ همداسې شدید وساتي. براین هوک په لندن کې یوه کنفرانس ته ویلي، که د ایران له خوا هره حمله کېږي، په پوځي قوت به ځواب ورکړل شي.
هغه زیاته کړې: «موږ هڅه کوو چې د ایران پر وړاندې له زغمه کار واخلو. موږ دغه راز ځان په داسې موقف کې نیسو چې که د ایران له خوا رابانديې برید وشي، موږ یې په پوځي قوت ځواب ورکړای شو، که رابانديې حمله وشي، موږ به بالمثل وکړو، موږ په سیمه کې د ایران ګواښونو ته ځواب ویلی او دغه استخباراتي معلومات مو د نړۍ په بېلابېلو برخو کې له ډېرو خلکو سره شریک کړي، موږ په شدت سره دفاعي حالت خپل کړی دی، خو فکر کوو چې د زغم د بېرته اعادې لپاره هڅه کوو».
دا خبرداری داسې مهال دی چې د ایران او امریکا ترمنځ له کړکېچونو وروسته دغه هېواد ویلي وو چې نور ځان د ۲۰۱۵ ز کال د اټومي تړون د ټولو شرایطو په رعایتولو مکلف نه ګڼي. ایران ویلي چې نږدې دی چې د خپلو غني شویو یورانیمو اندازه تر ۳۰۰ کیلوګرامو واړوي، دا هغه اندازه ده چې د اټومي تړون له خوا ورته حد ټاکل شوی و. وروسته له هغې چې د امریکا متحده ایالتونو له ایران سره د شوي اټومي تړون د وتلو او پر ایران د بندیزونو د بیا لګولو اعلان وکړ، د دواړو لوریو ترمنځ کړکېچ اوج ته ورسېد.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

- لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
- ژباړن: میـراحمد یـاد

### دیارلسم څپرکی
### څنګه د رهبر په څېر فکر وکړو؟




پنځلس کاله مخکې مې ورسره ملګري وه، اوس تقریباً پنځوس کلن دی، ځان يې په ډېرو سختيو يوه ځای ته ورساوه، زده کړې يې لږې وې، جيب يې تش و، خو بلاخره په (۱۹۳۱ .ز) کال کې له دندې ګوښه شو. بيا يې د خپل کور په ګراج کې د تمانچو د پوښونو يو دوکان جوړ کړ. د خپل زيار ګټه يې وليده، اوس د موبل و فرنيچر د توليد يوه فابريکه لري او درې سوه کاريګر ورسره کار کوي.
زما ملګری اوس ميليونر دی. پيسې او مادي وسايل ورته ډېر مهم نه دي، ځکه دی د ملګرو، ډاډ او سوکالۍ په برخه کې هم ميليونر دی.
د باب شوق له نورو سره يوه مرسته وه او دا ځانګړنه پکې ډېره څرګنده هم وه. دی واقعي انسان دی او خلکو سره داسې چلند کوي، څنګه يې چې د ځان لپاره غواړي.
زه او دی يوه ورځ د خلکو د نيوکو او له خلکو سره د ده د چلند پر موضوع غږېدو، راته وويل: (تا به له چا نه وي اورېدلي چې زه کمزوری، بېوسه او بې لاس و پښو يم، ځکه يوه لويه سوداګريزه اداره چلوم. څوک چې کار ورانوي زه يې سموم، خو مهمه دا ده چې څنګه يې سموم. له کارکوونکو چې تېروتنه وشي، نو زه بيا پام کوم چې ويې نه ځوروم او هغوی خجالت نه شي. په داسې حالاتو کې دا څلور ګامه اخلم:
١. يوازې (شخصي) خبرې ورسره کوم.
٢. د ښو کارونو مننه ترې کوم.
٣. هغه کار ور ښيم چې اوس يې سم نه شي کولای.
٤. ښې او مثبتې ځانګړنې يې ستايم.
دا کار ډېره مرسته کوي. زه چې داسې کار کوم خلک رانه خوشاله وي، ځکه زه پوهېږم ټول غواړي چې ضعفونه يې همداسې ورسره مطرح شي. دوی ټول عمر له دفتره ښه وځي او بلکې دا ذهنيت ورسره وي چې تر دې هم ښه کېدای شي.
دی زياتوي: (دا مې د ټول عمر تجربه ده، له خلکو سره چې څومره ښه کوم، هومره ښې پايلې ترلاسه کوم. د دې پايلو ترلاسه کولو لپاره مې ظاهر سازي نه ده کړې، دا بيخي ثابته خبره ده. يوه لنډه کيسه به درته وکړم. پنځه- شپږ کاله مخکې يو کارکوونکی دفتر ته نشه راغی، له راتلو څو شېبې وروسته په فابريکه کې ګډوډي شوه. ځان سره يې لکه چې د شرابو بوتل راوړی و او ټول يې دلته توی کړي وو. کارکوونکي ترې بوتل اخيستی و او همدا سړی د فابريکې باشي ځان سره بهر بيولای و.
زه چې بهر لاړم ګورم چې هماغسې ګنګس د دفتر ديوال ته ناست دی. لاس مې ورکړ، خپل موټر ته مې را پورته کړ او کور ته مې ورساوه. ښځه يې وېرېدلې وه. ما ورته وويل چې هېڅ خبره نشته او هېڅ نه کېږي. هغې راته وويل: (ته نه پوهېږې، د ده رئيس ډېر تريخ سړی دی، که خبر شو چې دی نشه کار ته تللی له کاره به يې وشړي.) ما ورته وويل: (نه يې شړي، غم مه کوه.) ويل يې: (ته څه پوهېږې؟) ورته ومې ويل: (ځکه چې زه يې رئيس يم.) ښځه يې نږدې ضعف شوې وه، ورته ومې ويل: زما چې څومره وس وي، هومره کار به ورته وکړم، هغې ته مې هم وويل چې څه مرسته دې له وسه وي ورسره ويې کړه، چې سبا بېرته کار ته راشي.
زه چې بېرته دفتر ته راغلم د دې کارمند څانګې ته لاړم، همکاران مې يې راټول کړل، ورته ومې ويل: (نن مو دلته يوه بده پېښه وليده، خو زه له تاسې هيله کوم چې هېره يې کړئ. هغه سړی سبا بېرته راځي، ښه چلند ورسره وکړئ. ډېره موده يې دلته ښه کار کړی دی، اوس بايد موږ يو فرصت ورکړو.
په سبا سړی کار ته راغی او بيا يې هېڅکله ستونزه جوړه نه کړه. ما هغه پېښه ډېره زر هېره کړه، خو داسې ښکارېدل چې له هغه هېره نه وه. دوه کاله مخکې د ادارې مرکزي دفتر يو هئيت را ولېږه، چې د دې څانګې پر قراردادونو وغږېږي. دوی له موږه عجبه او نامعقولې غوښتنې لرلې. خو هماغه نشه کس په دې ورځ پاڅېد، کارکوونکو ته يې وويل چې: د دې څانګې رئيس تل موږ سره ښه کړي دي. اوس موږ دېته هېڅ اړتيا نه لرو چې بهر نه دې خلک راشي او دا دې راته وښيي چې کارونه به څنګه کوو.
هغه پردي خلک لاړل او موږ خپلو کې، ښه د ملګرۍ په فضا کې پر قراردادونو وغږېدو.)
د انساني چلند خپلولو او ښې رهبرۍ لپاره دوه لارې دي: لومړی دا چې کله مو له چا سره شخړه راغله، نو له ځانه پوښتنه وکړئ چې دې ستونزې سره د چلند تر ټولو انساني لاره څه ده؟
کارکوونکو سره مو که شخړه راغله يا مو کوم کارکوونکي ستونزه جوړه کړه، نو پر دې پوښتنې ژور فکر وکړئ.
دا خبره ياد ساتئ. خلکو ته پېغور مه ورکوئ. بدبيني مه کوئ. خلک مه سپکوئ او غرور يې مه ټيټ کوئ.
پوښتنه وکړئ چې: دې حالت سره تر ټولو انساني چلند کوم دی؟ دا کار بې ګټې نه دی، ګټې به يې زر يا په ځنډ خپله وويني.
دويمه لاره دا ده: په خپل چلند کې خلکو ته لومړيتوب ورکړئ. ستاسې مامورين چې تر خپل مسئوليته ډېر څه کوي، هغه ته لېوالتيا وښيئ. خلکو سره درونډ چلند وکړئ. دا ياد ساتئ چې د ژوند لومړۍ موخه له ژونده خوند اخيستل دي. دا يو عمومي اصل دی چې تاسې چاته څومره لېوالتيا ښيئ، هغه به درته دومره ډېر کار کوي او د هماغه کس کار تاسې د برې لوړو پوړونو ته رسوي.

**دوام لري...**

# میهن د لوړو زده کړو موسسه

حميدالله حميدي




ميهـن د لـوړو زده کـړو موسسـې خپلـې رسـمي چـارې د هېـواد د لـوړو زده کـړو وزارت پـه منظـورۍ، پـه ١٣٩٠ لمريـز کال کـې يـوازې پـه طبـي برخـه کـې پيـل کـړې دي. دغـه موسسـه لـه هماغـه پيلـه تـر اوسـه درې پوهنځـي (سـتوماتولوژي، فارمسـي او طبـي ټکنالـوژي) لـري. د ميهـن د لـوړو زده کـړو موسسـې د محصلينـو او اسـتادانو د چـارو مرسـتيال سـهراب عبـدي وايـي، پـه خپلـو درې ګونـو پوهنځيـو کـې ډېـر محصليـن لـري چـې نارينـه او ښـځينه دواړه پکـې شـامل دي.
ښـاغلی عبـدي وايـي، لـه ١٣٩٠ لمريز کالـه تـر دې دمـه يـې لـه فارمسـي پوهنځـي څخـه اتـه دورې، لـه طبـي ټکنالـوژۍ څخـه پنځـه دورې او لـه سـتوماتولوژۍ پوهنځـي يـې نهـه دورې محصليـن د لېسـانس پـه کچـه ټولنـې تـه د خدمـت پـه موخـه وړانـدې کـړې دي. نومـوړی وايـي، تـر اوسـه يـوازې پـه طبـي برخـه کـې چـې پورتـه ذکـر شـوي پوهنځـي لـري، فعاليـت کـوي او د کومـې بلـې برخـې پـه اړه يـې فکـر نـه دی کـړی.
دا سـمه ده چـې مـوږ هـم ښـځينه او هـم نارينـه دواړو مسـلکيانو تـه اړتيـا لـرو، خـو پـه طبـي برخـه کـې بيـا تـر نـورو ډېـره ورتـه اړتيـا ده. د ښـاغلي عبـدي پـه خبـره، دوی اوس پـه خپلـو فعالـو پوهنځيـو کـې لـږ تـر لـږه ١٢٥٠ محصليـن لـري، چـې پـه دې برخـه کـې ٣٥ سـلنه يـې ښـځينه محصلينـې دي. د نومـوړي پـه خبـره، د فـارغ شـويو محصلينـو ٤٠ سـلنه برخـه يـې ښـځينه جـوړوي چـې اوسـمهال د هېـواد پـه بېلابېلـو روغتونونـو کـې پـر کار بوخـت دي او د هېوادوالـو خدمـت کـوي.
د ميهـن د لـوړو زده کـړو موسسـې د محصلينـو د چـارو مرسـتيال وايـي، لـه طبـي ټکنالـوژۍ او فارمسـۍ پوهنځـي څخـه يـې محصليـن د لېسـانس پـه کچـه فارغېـږي، خـو دا چـې د سـتوماتولوژي پـه پوهنځـي کـې د زده کـړو مـوده شـپږ کالـه ده، نـو هغـه کسـان چـې لـه دې پوهنځـي څخـه فارغېـږي، د ماسـټرۍ پـه کچـه تحصيـلي اسـنادونه ورکـول کېـږي. دا چـې پـه لـوړو زده کـړو وزارت کـې د خصوصـي پوهنتونونـو لـه قانـون سره سـم يـو طبـي پوهنځـی پـه کال کـې لـه سـلو ډېـر محصليـن نـه شي جذبولـی، نـو پـه دې برخـه کـې يـو محدوديـت شـته. ښـاغلی عبـدي وايـي، دا چـې پـه خصوصـي پوهنتونونـو کـې د طبـي پوهنځيـو د زده کـړو لګښـت يـو څـه زيـات دی، نـو هغـه کسـان چـې اقتصـادي وضعيـت يـې ښـه نـه وي، نـه شي کولـی دغـه برخـه مـخ تـه يوسـي، نـو دوی پـه کال کـې د ٢٥٠ پـه شـاوخوا کـې نـوي محصليـن جذبـوي.
ميهـن د لـوړو زده کـړو موسسـه د خپلـو محصلينـو لپـاره هـر کال ځانګـړی تخفيـف لـري. د عبـدي پـه خـبره، د ١٣٩٨ لمريـز کال لپـاره پـه سـتوماتولوژۍ او فارمسـۍ کـې ٢٠ سـلنه تخفيـف او پـه طبـي ټکنالـوژۍ کـې ٤٠ سـلنه تخفيـف لـري. د يادولو وړ ده چـې ميهـن د لـوړو زده کـړو موسسـه د قابلګـۍ پوهنځـی هـم لـري، چـې يـوازې دوه کالـه پکـې زده کـړې کېـږي. دی وايـي، پـه قابلګـۍ برخـه کـې هـم د خپلـو محصلينـو لپـاره ٤٠ سـلنه تخفيـف لـري، چـې يـوازې ښـځينه محصلينـې پکـې زده کـړې کـوي.
دا چـې پـه خصوصـي پوهنتونونـو کـې تـر ډېـره هغـه کسـان زده کـړې کـوي، چـې د زده کـړو تـر څنـګ خپـل شخصـي کارو بـار لـري او يـا هـم پـه نـورو ادارو کـې پـر کار بوخـت وي، نـو ميهـن د لـوړو زده کـړو موسسـې همـدې ټکـي تـه پـه پـام سره د ورځـې پـه دوو ټايمونـو کـې د خپلـو محصلينـو لپـاره د زده کـړو زمينـه برابـره کـړې ده. ښـاغلی عبـدي وايـي، د سـهار لـه اتـو تـر لسـو او د مازديګـر لـه څلـور نيمـو تـر اوو بجـو پـورې محصليـن د زده کـړو لپـاره ور غـواړي. دی وايـي، پـه همـدې مـوده کـې محصلينـو تـه نظـري او عمـلي زده کـړې ور کـول کېـږي.
دا چـې پـه ميهـن د لـوړو زده کـړو موسسـه کـې يـوازې پـه طبـي برخـه کـې زده کـړې کېـږي، نـو اسـتادان يـې تـر ډېـره ډاکټـران دي او ټاکلـې لـوړې زده کـړې لـري. د عبـدي پـه خـبره، پـه درې واړو پوهنځيـو کـې يـې پـر کار پـوه او مسـلکي اسـتادان پـر دنـدو ګومـارلي او د تدريـس چـارې مـخ تـه وړي چـې پـه دواړو برخـو عمـلي او نظـري ډول محصلينـو تـه تدريـس کـوي. د دې ترڅنـګ، د ثقافـت د تدريـس پـه برخـه کـې يـې هغـه کسـان پـر دنـدو ګمـارلي، چـې لـه شرعياتـو پوهنځـي فـارغ وي او د تدريـس پـه برخـه کـې کافي تجربـه ولـري. دا چـې څـو کسـان د ميهـن پـه لـوړو زده کـړو موسسـه کـې پـر تدريـس بوخـت دي، پـه اړه يـې ښـاغلي عبـدي څـه ونـه ويـل.
کـه څـه هـم پـه طبـي برخـه کـې د ډېـرو کتابونـو پيـدا کـول يـو څـه سـتونزمن دي، خـو بيـا هـم ميهـن د لـوړو زده کـړو موسسـې هڅـه کـړې ده چـې د خپلـو محصلينـو لپـاره د اړتيـا وړ کتابونـه پـه خپـل کتابتـون کـې ولـري. د عبـدي پـه خـبره، د مسـلک اړونـد لـږ تـر لـږه ٣٠٠٠ کتابونـه يـې پـه هـارډ او لـږ تـر لـږه ٥٠٠ نـور بـې پـه سـافټ ډول د خپلـو محصلينـو پـه واک کـې ورکـړي، څـو محصليـن او اسـتادان د اړتيـا پـر مهـال ګټـه تـرې واخـلي. دی وايـي، هڅـه کـوي هغـه کتابونـه چـې پـه ٢٠١٩ ز کال کـې چاپېـږي، دوی بـه يـې لـه ايـران او هنـد هېوادونـو څخـه را وغـواړي او د خپلـو محصلينـو پـه واک کـې بـه يـې ورکـړي.
دغـه موسسـه تـر اوسـه پـورې پـه کـور دننـه لـه لـوړو زده کـړو وزارت پرتـه، لـه کـوم پوهنتـون سره علمـي اړيکـې يـا هوکـړې نـه لـري، خـو اوس اوس يـې هڅـې پيـل کـړې دي، چـې پـه ترکيـه کـې لـه يـوه خصوصـي پوهنتـون سره د علمـي اړيکـو تـر څنـګ، يـوه هوکـړه هـم لاسليک کـړي، څـو هغـه محصليـن چـې دلتـه لـوړې نمـرې اخـلي، د لـوړو زده کـړو او يـا هـم نـورو وړتيـاوو لوړولـو لپـاره يـې دغـه هېـواد تـه ولېـږي او تـر څنـګ يـې د دغـه پوهنتـون لـه تجربـو څخـه ګټـه واخـلي.
لـوړو زده کـړو وزارت لومـړی خصوصـي پوهنتونونـو او بيـا وروسـته د لـوړو زده کـړو خصوصـی موسسـو څخـه فـارغ شـويو محصلينـو تـه د ډيپلـوم پـه کچـه تحصيـلي اسـنادونه ورکـوي. ښـاغلی عبـدي وايـي، دوی تـر اوسـه پـورې خپلـو فـارغ شـويو محصلينـو تـه يـوه تصديـق پاڼـه چـې لـوړو زده کـړو وزارت يـې تاييـدوي ورکـوي، څـو د دنـدې پـه پيـدا کولـو او نـورو برخـو کـې تـرې ګټـه واخـلي، ځکـه دغـه تصديـق پاڼـه پـه ټولو ادارو کـې د بـاور وړ ده او ډيپلـوم ارزښـت لـري. دی وايـي، تـر اوسـه پـورې يـې لـږ تـر لـږه ٦٠٠ فـارغ شـويو محصلينـو تـه دغـه تصديـق پاڼـې ورکـړې دي او کلـه چـې د لـوړو زده کـړو خصوصـي موسسـو تـه د ډيپلومونـو د ويـش وار رسـېږي، هغـه وخـت بـه بيـا لومـړی فـارغ او بيـا وروسـته فارغېدونکـو محصلينـو تـه د لـوړو زده کـړو وزارت لخـوا تاييـد شـوي ډيپلومونـه ورکـوي.
د دې موسسـې اداره د خپـل بنسـټ لپـاره يـو پنځـه کلـن سـتراتيژيک پـلان لـري، چـې اوسـمهال يـې لـوړو زده کـړو وزارت تـه د تاييـدۍ لپـاره اسـتولی دی. پـه دغـه سـتراتيژيک پـلان کـې د دايمـي اسـتادانو ګـمارل، د کتابتـون پراختيـا، د لابراتوارونـو جـوړول، د غاښـونو د کلينـک جـوړول او پـه ټولـه کـې د پولي کلينـک جـوړول چـې د شـته پوهنځيـو ټولـې برخـې بـه ولـري، شـامل دي.
د ميهـن د لـوړو زده کـړو موسسـه لـه لـوړو زده کـړو وزارت څخـه غـواړي، چـې پـه لومـړي سر کـې بايـد لـه خصوصـي پوهنتونونـو او د لـوړو زده کـړو لـه موسسـو څخـه ملاتـړ وکـړي او کـه ملاتـړ ونـه کـړي او هرڅـه پـه اوسـني ډول روان وي، ډېـر ژر ده چـې ډېـری پوهنتونونـه او يـا موسسـې بـه وتـړل شي او کـه ونـه هـم تـړل شي، د کيفيـت لـه اړخـه بـه خـورا کمـزوري شي. د دې ترڅنـګ، فـارغ شـويو محصلينـو تـه د ډيپلومونـو ويشـل يـوه اساسـي سـتونزه ده. ښـاغلی عبـدي وايـي، کـه څـه هـم پـه هېـواد کـې فعالـې ټولـې ادارې پـر دې ښـې پوهېـږي چـې تـر اوسـه پـورې د خصوصـي پوهنتونونـو فـارغ شـويو محصلينـو تـه ډيپلومونـه نـه دي وېشـل شـوي او ورکـړل شـوې تصديق پاڼـې چـې لـوړو زده کـړو وزارت تاييـد کـړې دي، د ډيپلـوم ارزښـت لـري، خـو بيـا هـم د دوی لپـاره پـه دنـده اخيسـتو کـې سـتونزې جـوړوي. دی لـه لـوړو زده کـړو وزارت څخـه غـواړي چـې هـر څومره ژر کېـدای شي د خصوصـي پوهنتونونـو د فارغانـو لپـاره هـم ډيپلومونـه ورکـړي، څـو محصليـن لـه خپـل دې اسـاسي حـق څخـه برخمـن شي او د دنـدې پـه پيـدا کولـو کـې لـه سـتونزو سره مـخ نـه شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بيې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۹۵ |
| € | ۹۱,۵۰ |
| Rp. | ۵۰۵ |
| ₹ | ۱۱٦۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۱۰۱,۵۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# خطرات استفاده از ضدآفتاب طبیعی!

ترجمه: احمد فردوسی

با رسیدن فصل گرما جستجو برای محصولات ضدآفتاب و مراقبت از پوست هم بیشتر می‌شود. در این میان بعضی از سایت‌ها و شبکه‌های اجتماعی هم برای ایجاد جذابیت و جذب بازدیدکننده بیشتر دستورالعمل‌هایی را برای ساخت ضدآفتاب طبیعی در خانه منتشر می‌کنند یا حتی بعضی از آنها این محصولات را می‌فروشند که مشتری‌های خودشان را هم دارند. اما آیا محصولات ضدآفتاب طبیعی واقعاً برای حفظ سلامت پوست ما فایده‌ای دارند؟ آیا ممکن است این محصولات عوارضی را برای سلامت پوست و سلامت بدن ما به دنبال داشته باشند؟ در ادامه این مطلب، این موضوع را به طور مفصل بررسی کرده‌ایم.

یک مطالعه جدید نشان می‌دهد، محصولات ضدآفتاب طبیعی ممکن است حتی زندگی ما را در معرض خطر قرار دهند. دکتر لارا مک کینزی یکی از محققان مرکز تحقیقات و آسیب‌شناسی در شفاخانه کودکان در امریکا اعلام کرده است که تیم تحقیقاتی او درباره ضدآفتاب‌های خانگی در پینترست تحقیقاتی انجام داده‌اند.

محققان با بررسی این کریم‌های ضدآفتاب خانگی در پینترست متوجه شدند که تقریباً ۹۵ درصد از آنها ظاهرا تأثیرات بسیار مثبتی داشتند. اما واقعیت این است که حدود ۷۰ درصد از این دستورالعمل‌های ارائه‌شده، به‌اندازه‌کافی قادر به حفاظت از پوست بدن در برابر پرتو فرابنفش نبودند.

در تبلیغ این کریم‌های ضدآفتاب می‌گویند که آنها از پوست ما و فرزندان‌مان محافظت می‌کنند، اما در واقع آنها از ترکیباتی درست می‌شوند که نمی‌توانند از اشعه‌های زیان‌بار نور آفتاب جلوگیری کنند.

داکترانی که هر روز با تعداد زیادی از بیماران مبتلا به ملانوما و سرطان پوست سروکار دارند، بر این باورند که این دستورالعمل‌ها ارزش خطرکردن ندارند.

**خطرات استفاده از ضدآفتاب‌های خانگی**

شاید بگویید دستورالعمل‌های بسیار زیادی در انترنت هست که اثربخشی خاصی ندارند. حرف شما درست است، اما به‌عنوان مثال نهایت خطری که روغن‌لب یا نرم‌کننده خانگی مو که از مواد طبیعی تهیه شده، چیست؟ این که مؤثر نباشد. اما ضدآفتابی که نتواند از شما دربرابر نور آفتاب محافظت کند، شما را به راحتی در معرض خطر انواع سرطان‌های مرگبار قرار می‌دهد.

در سایتی مانند پینترست تعداد زیادی دستورالعمل با عنوان محصولات قابل‌تهیه از مواد ارگانیک و طبیعی وجود دارد که می‌توان آنها را در منزل تهیه کرد. اما این لزوماً بدان معنا نیست که هر چیزی که می‌توان آن را در منزل و از مواد طبیعی تهیه کرد، برای سلامت خودمان و کودکان‌مان خطری نداشته باشد.

خطری که در اینجا از آن صحبت می‌کنیم، در خوش بینانه ترین حالت آفتاب سوختگی و در بدترین حالت احتمال ابتلا به سرطان پوست در آینده است. دکتر تانیا نینو متخصص پوست از شفاخانه در کالیفرنیا هم همین دیدگاه را درباره مشکلات تهیه کریم ضدآفتاب خانگی از دستورالعمل‌های انترنتی دارد.

**مشکل کریم‌های ضدآفتاب طبیعی چیست؟**

مشکل کریم‌های ضدآفتاب طبیعی این است که نمی‌توان به میزان قدرت محصول نهایی برای مراقبت از پوست در برابر نور آفتاب اطمینان کرد. کریم‌های ضدآفتاب معتبر موجود در بازار برای تعیین میزان جلوگیری از آفتاب سوختگی تحت آزمایش‌های متعددی قرار می‌گیرند. کریم‌های ضدآفتاب طبیعی ممکن است ادعا کنند که SPF مشخصی دارند، اما بدون انجام آزمایش‌های تعیین‌کننده چطور می‌توان SPF واقعی‌شان را نشان داد؟

به‌جز این مورد، مشکل دیگری هم وجود دارد که به عناصر تشکیل‌دهنده این ضدآفتاب‌ها مربوط است.

در تهیه کریم‌های ضدآفتاب تجاری علاوه‌بر عناصر فعال، از ترکیباتی استفاده می‌کنند که به تثبیت کریم ضدآفتاب در طول زمان کمک می‌کند، کریم را به‌شکل یکنواخت روی پوست پخش می‌کند و به ما اطمینان می‌دهد که این کریم ضدآفتاب در برابر نور فرابنفش در مدت زمان مشخصی دوام می‌آورد. دستیابی به این سطح از کیفیت در ترکیبات طبیعی واقعاً قابل اعتماد نیست.

این موضوع حتی در کریم‌های ضدآفتاب تهیه‌شده از روغن نارگیل نیز صدق می‌کند.

**آفتاب‌سوختگی خطر ابتلا به سرطان را افزایش می‌دهد**

با اینکه نمی‌توان به‌صراحت آفتاب سوختگی را عامل قطعی سرطان پوست دانست، اما مطالعات نشان می‌دهند که فقط پنج تاوان ناشی از آفتاب سوختگی در دوران کودکی می‌تواند خطر ابتلا به ملانوما را تا ۸۰ درصد افزایش دهد. این خطر تا آخر عمر فرد را رها نخواهد کرد.

آفتاب سوختگی بی‌تردید خطر ابتلا به سرطان پوست را افزایش می‌دهد. در حقیقت، داشتن سابقه آفتاب سوختگی از جمله عوامل اصلی خطر برای ابتلا به مرگبارترین نوع سرطان پوست یعنی ملانوما است.

کارشناسان بر این باورند که بهترین راه پیشگیری از آفتاب سوختگی، استفاده از کریم‌های ضدآفتابی است که توسط سازمان غذا و دارو تأیید شده و در بازار وجود دارد. استفاده از کریم‌های ضدآفتاب روزانه می‌تواند از آسیب به(DNA) سلول‌های پوست پیشگیری کند. کاهش آسیب (DNA) به‌نوبه خود خطر بدخیم شدن سلول‌های پوستی یا سلول‌های رنگدانه‌ساز و در نتیجه ابتلا به سرطان را کاهش می‌دهد.

**از کریم‌های ضدآفتاب معتبر استفاده کنید**

محققان تأکید می‌کنند که از کریم‌های ضدآفتاب موجود در بازار خریداری کنید و به‌دنبال تهیه کریم ضدآفتاب خانگی نباشید. اما اگر ترجیح می‌دهید که اصلاً از کریم‌های ضدآفتاب استفاده نکنید، باید کاری کنید که به‌هیچ عنوان در معرض نور آفتاب قرار نگیرید (که کاری بسیار دشوار است، زیرا پرتو فرابنفش نوع A حتی از پنجره‌های بسته محیط هم عبور می‌کند).

البته این بدان معنا نیست که حتماً باید از کریم‌های ضدآفتاب بسیار گران‌قیمت و برندهای بسیار بزرگ استفاده کنید. حتی یک برند معمولی که در فروشگاه‌ها و دواخانه‌ها فروخته می‌شود، می‌تواند بسیار مفیدتر از کریم‌های ضدآفتاب خانگی باشد. حتی معمولی‌ترین ضدآفتاب‌ها هم از ضوابط و استانداردهای مشخص برای آزمایش عبور کرده‌اند. اینکه آیا کریم‌های ضدآفتابی که به‌طور طبیعی تهیه می‌شوند، واقعاً به همان اندازه که ادعا می‌کنند مفید هستند و از پوست در برابر نور آفتاب محافظت می‌کنند یا نه، معلوم نیست.

**توصیه‌های ایمنی در هنگام قرارگرفتن در معرض نور آفتاب**

برای محافظت از پوست دربرابر پرتوهای UVA و UVB باید به مدت ٦ ماه یا بیشتر از کریم‌های ضدآفتاب استفاده کنیم.

کریم‌های ضدآفتاب باید دارای ۳۰ SPF یا بالاتر از آن باشند. همه صدآفتاب‌های طبیعی که دکتر مک کینزی مطالعه کرد، ادعا داشتند که دارای SPF بین ۲ تا ۵۰ هستند؛ اما هیچ راهی برای تشخیص این موضوع با توجه به فهرست ترکیبات آنها وجود نداشت.

بهتر است از سنین پایین این عادت خوب را در فرزندان‌مان ایجاد کنیم که به‌طور مرتب از ضدآفتاب استفاده کنند و کریم‌های قدیمی و تاریخ گذشته را دور بیندازند.

منتقدان به‌تازگی از ویب سایت پینترست به دلیل راه‌اندازی برنامه‌هایی که توصیه‌های صحی اثبات‌نشده و احتمالاً غیر ایمن برای مخاطبان ارائه می‌دهد، به‌سختی انتقاد کردند. پینترست اعلام کرده است که محدودیت‌هایی را برای موضوعاتی مانند واکسین‌ها و سایر مطالب گزارش‌شده توسط کاربران اعمال کرده است. با این‌حال تعداد بسیاری از مطالب مربوط به کریم‌های ضدآفتاب طبیعی باقی مانده‌اند.

اقداماتی که سایت پینترست درباره اطلاع‌رسانی نادرست انجام داده است، به این صورت است: «مواردی مانند تبلیغ درمان‌های قلابی برای بیماری‌های لاعلاج یا مزمن و توصیه‌هایی که در آنها ذهنیت کاربران را نسبت به واکسیناسیون خراب کرده باشد، ممنوع است. به‌موجب این ممنوعیت هیچ‌کس اجازه ندارد محتوای دارای توصیه‌های درمانی را ذخیره کند، زیرا ممکن است اثرات فوری و زیان‌باری را روی سلامت مخاطبان سایت یا سلامت عمومی داشته باشد».

**جمع‌بندی**

تحقیقاتی جدید نشان می‌دهد، دستورالعمل‌های طبیعی برای کریم‌های ضدآفتاب خانگی که در پینترست به‌وفور یافت می‌شوند، می‌توانند شما را در معرض خطر آفتاب‌سوختگی و سرطان پوست قرار د هند .

کارشناسان استفاده از یک کریم ضدآفتاب تجاری موجود در بازار و دارای تأییدیه FDA را برای پیشگیری از آسیب پوستی و کاهش خطر ابتلا به سرطان پوست توصیه می‌کنند.

حداقل SPF برای کریم ضدآفتاب باید ۳۰ باشد.

استفاده مرتب از ضدآفتاب باید عادت همیشگی‌مان شود.

بهتر است استفاده مرتب از ضدآفتاب را به کودکان‌مان هم آموزش دهیم.

هرگز نباید از کریم‌های ضدآفتاب منقضی‌شده استفاده کنیم.


# اعتراض کوونکي: د تقويتي نوملیکنې پروسه دې په خوست کې وغځول شي

د خوست ځینې اعتراض کوونکي د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره د تقويتي نوملیکنې د پروسې غځولو غوښتنه کوي.

دوی چې شمېر یې لسګونو کسانو ته رسېد، پرون د مرکز اړوند د نوملیکنې په یوازیني مرکز کې د اعتراض په ډول راټول شوي وو، دوی ویلي که دغه پروسه ونه غځول شي، بنایي زرګونه خلک د رایې ورکولو له حقه محروم شي.

د دغو اعتراض کوونکو له ډلې حاجي ظریف پژواک ته ویلي چې له څلور ساعته انتظار وروسته لا هم پر دې نه دي بریالي شوي چې خپله پېژندپاڼه ستېکر کړي.

هغه زیاته کړې، که حکومت د تقويتي نوملیکنې پروسه ونه غځوي، نو ډېر خلک به په ولسمشریزو ټاکنو کې له ګډونه بې برخې شي.



هغه ویلي: «حکومت باید لږ تر لږه بیا یوه اونۍ وخت ورکړي؛ ځکه ښځې ډېر خلک پاتې دي. نن دا دی دغه مرکز ته له دریو سوو ډېر کسان راغلي، خو تر اوسه چې غرمه ده دېرشو کسانو هم نوملیکنه نه ده کړې». د جنت میر په نوم یو بل اعتراض کوونکي ویلي، هغو کسانو چې د ولسي جرګې په تېرو ټاکنو کې یې نوملیکنه نه وه کړې او خپلې پېژندپاڼې یې نه وې ستېکر کړې، غواړي اوس نوملیکنه وکړي.

د هغه په خبره، د دې لپاره چې دغه کسان په راتلونکو ټاکنو کې د رایې له استعماله پاتې نه شي، نو حکومت ته لازمه ده چې د تقويتي نوملیکنې دغه پروسه وغځوي.

په همدې حال کې د خوست د ټاکنو ولایتي دفتر مشر عبدالرحمان محبت چې د اعتراض کوونکو په ځای کې یې خبرې کولې، ویلي چې که نن(پرون) تر مازدیګره د پروسې غځولو په اړه له مرکزي کمېسیونه کوم هدایت تر لاسه نه شو، نو د شپې تر ناوخته به د نوملیکنې مرکزونه د خلکو پر مخ پرانیستي وي او کولی شي ځانونه ثبت کړي.

د دغو اعتراض کوونکو بله غوښتنه دا وه چې که د تقويتي نوملیکنې دغه پروسه غځېږي، نو ورسره په څنګ کې دې د نوملیکنې مرکزونه هم اضافه شي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer Daily
New Vision, New Journey

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!


flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست ټاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ نهمه | د ۲۰۱۹ د جون ۳۰مه | درېیم کال | ۳۹۵یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | ۳۹ | ۴۱ | ۳۹ | ۳۵ | ۳۸ |
| ۱۶ | ۲۱ | ۲۲ | ۲۶ | ۲۲ | ۲۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۲:۵۹ | لمر ختل ۰۴:۴۳ | ماسپښین ۱۱:۵۷ | مازیګر ۰۳:۴۴ | ماښام ۰۷:۱۱ | ماخوستن ۰۸:۵۹

## نړۍ



# د نړۍ پیاوړو هېوادونو ایران ته خبرداری ورکړی چې اټومي تړون ته ژمن پاتې شي

۳

## جان باس: در افغانستان صلح نسبت به انتخابات اولویت دارد



سفیر ایالات متحدۀ امریکا در کابل، ضمن اظهار امیدواری به نتایج خوب دور هفتم گفت‌وگوهای صلح میان نماینده گان امریکا و طالبان، گفته است که در افغانستان صلح نسبت به انتخابات اولویت دارد.

جان باس سفیر ایالات متحدۀ امریکا در افغانستان، دیروز در یک گفت‌وگو با خبرنگاران در کابل گفته است: «دور جدید گفت‌وگوهای صلح میان آقای خلیلزاد و طالبان در دوحه آغاز می‌شود، ما امیدوار هستیم که این بار نتایج خوب را به دست بیاوریم».

سفیر امریکا در کابل، به سوالی مبنی بر اینکه در افغانستان صلح در اولویت آمریکا قرار دارد یا انتخاباتی که قرار است در ششم میزان سال روان راه اندازی شود؟ گفته است: «ما باید روی هر دو [صلح و انتخابات] کار کنیم، با آنکه انتخابات هم مهم است؛ زیرا یک موضوع کلان ملی است؛ اما صلح در اولویت اول ما است؛ زیرا موضوع مهم‌تر است. تا حال ما با تمام کسانی که صحبت کردیم، صلح در اولویت شان قرار داشته است».


موصوف افزوده است که باید در تابستان سال روان، کارهای بیشتر روی صلح صورت گیرد و بعد از صلح روی انتخابات نیز کار شود.

او به سفر اخیر مایک پمپیو وزیر خارجه ایالات متحده امریکا به افغانستان اشاره کرده و افزوده است که وزیر خارجه امریکا نیز گفته است که صلح، در اولویت ایالات متحده امریکا قرار دارد.

وزیر خارجۀ امریکا در سفرش به افغانستان، در کنار تأکید بر انتخابات ریاست جمهوری افغانستان در زمان معین، اظهار امیدواری کرد که پیش از انتخابات با طالبان صلح شود.

سفیر امریکا افزوده است که ایالات متحده امریکا در گفت‌وگوهای صلح، به تعهد لفظی طالبان اکتفا نمی کند و باید تعهدات عملی داشته باشند؛ در غیر آن ایالات متحده با تعهدات لفظی طالبان، برای خروج نیروهای خود از افغانستان اقدام نمی کند.

## امریکا او چین د سوداګرۍ پر سر د نویو خبرو هوکړه کړې ده



د چین دولتي رسنیو ویلي، د امریکا د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ او د هغه چینایي سیال شي جین پینګ په جاپان کې تر بحثونو وروسته د سوداګرۍ پر سر پر نویو خبرو هوکړه کړې ده.

د چین دولتي خبري اژانس سینهوا راپور ورکړی چې واشنګټن به پر چینایي مالونو نوې تعرفه نه وضعه کوي.

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ پرون په یوه کنفرانس کې وویل، امریکا به پر چینایي مالونو تعرفې نه زیاتوي، خو په خبره یې چې دغه تعرفې به لرې کېږي هم نه.

نوموړي زیاته کړې: «موږ به مذاکرې ته دوام ورکوو، ما ژمنه وکړه چې لږ تر لږه به د اوس لپاره له چینه تعرفې نه لرې کوو».

د امریکا او چین ولسمشرانو پرون سهار د جاپان په اوساکا کې د شلو صنعتي هېوادونو یا (G-۲۰) د سرمشریزې په څنډه کې په دې تړاو خبرې کړې دي.

د دې کتنې په پیل کې ولسمشر ټرمپ ویلي وو، له چین سره د تجارت پر سر یوې تاریخي موافقې ته لېوال دی، خو د چین ولسمشر شي جین پینګ خپل امریکایي سیال ډونالډ ټرمپ ته وویل، د مقابلې په پرتله خبرې ښې دي.

دا په داسې حال کې ده چې ټرمپ له خپل چینایي سیال سره تر خبرو مخکې هیله ښودلې وه چې ګټوره ناسته به ولري.

خو نوموړي ټینګار کړی و چې که د دواړو هېوادونو د تجارت پر سر د لانجې په حل کې پرمختګ ونه شو، دی به خپل هغه پلان عملي کړي چې له مخې یې پر چینایي تولیداتو تعرفه لوړېږي.

د امریکا حکومت، د امریکا د معنوي شتمنۍ د غلا کولو او د چین په مارکېټ کې د امریکایي او نورو بهرنیو شرکتونو پر وړاندې د پرتو خنډونو د لرې کولو په برخه کې له چینه د پراخو بدلونونو غوښتنه لري، خو بیجېنګ وایي، واشنګټن غیر منطقي غوښتنې لري او باید ځینې امتیازونه ومني.

## ملګري ملتونه: که په یمن کې د ماشومانو روان وضعیت ته پام ونه شي، انساني ناورین به رامنځته شي



ملګرو ملتونو ویلي، له ۲۰۱۳ ز کال را وروسته په یمن کې ۷۵۰۰ ماشومان وژل شوي او ټپیان شوي دي.

ملګرو ملتونو زیاته کړې چې په یمن کې اوسمهال هم د ماشومانو وضعیت ورځ تر بلې د خرابېدو پر لور روان دی او که جدي پاملرنه ورته ونه شي، انساني ناورین به رامنځته شي.

د ماشومانو د کړکېچ په برخه کې د ملګرو ملتونو ځانګړې استازې ویرجینیا ګامبا ویلي: «په یمن کې د ماشومانو وضعیت ورځ تر بلې د خرابېدو پر لور روان دی، دوی له ډېرو ستونزو سره مخ دي او که جدي پاملرنه ورته ونه شي، ښایي د ډېرو بدو پېښو شاهدان و اوسو». نوموړي دغه راز زیاته کړې چې په دغه هېواد کې ماشومانو ته تر ډېره په هوایي بریدونو، نښتو، بمي بریدونو او ځانمرګو بریدونو کې مرګ ژوبله اوښتې ده. د هغه په خبره، اوسمهال تر دریو زرو ماشومان په دغه هېواد کې د جګړو په لیکو کې د نظامیانو په توګه جنګیږي، چې له بشري حقونو څخه جدي سرغړونه ګڼل کېږي. ملګرو ملتونو ویلي، د دوی تازه موندنې ښیي چې اوسمهال په دغه هېواد کې اته میلیونه ماشومان پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري او دغه راز دوه میلیونه نور بیا په خوارځواکۍ اخته دي. د ملګرو ملتونو د راپورونو له مخې، د یمن کړکېچ د نړۍ تر ټولو ډېر دردوونکی دی چې اوسمهال د دغه هېواد ۷۵ سلنه وګړي جدي مرستو ته اړتیا لري.


# اعلان داوطلبی

سازمان خیریه بین‌المللی برای انکشاف و توسعه (IORWD) می‌خواهد پروژه قربانی سال ۲۰۱۹ م مطابق ۱۴۴۰هـ مطابق ۱۳۹۸هجری شمسی از طریق شرکت‌ها وموسسات ذیربط که با ارکان‌های ذیربط دولتی ثبت وراجستر باشند و جواز فعالیت آن مدار اعتبار و تصدیق تصفیه حسابات مالی خود را از وزارت مالیه در دست داشته باشد، مواشی قربانی را در روزهای عید قربان خریداری نماید، بناءً شرکت‌ها وموسسات یکه دارای مواصفات فوق باشند، می‌توانند در داوطلبی شرکت کنند و شرطنامه را از سازمان فوق أخذ نماید و نرخ خود را إلی تاریخ ۲۰۱۹/۰۷/۰۲ م به دفتر سازمان مذکور تقدیم نماید.

آدرس: شش درک، خانه (۷)، نزدیک دفتر ایچ ایل، سرک عمومی، دفتر سازمان مذکور.

پوست‌بکس (ص – ب –۳۱۸۱وزارت مخابرات کابل افغانستان)

iiro_kabul_4u@hotmail.com
0093791220232